مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شفیقه خپلواک

۲۰۲۲/۰۳/۲۲

مساپر

مساپره ژوند روان دی
مساپره بیا باران دی
زړه مې ستا د زړه تر څنګ وي
په زړه مې دا ارمان دی
ورځې لنډې شپې اوږدې دي
د یارۍ کیسې زړې دي
د بې ساه ګلاب په څیر یم
بې له تا مې شیبې مړې دي
مساپره د زړه سره
پیغله غیږه مې صحرا ده
نه یې نه یې سترګې سترې
زنده ګي راته بلا ده
مساپره ډیوه بله
په کړکۍ کې درته ناسته
غیږ مې خلاصه ده نیولې
هله راشه را وځغاسته
د بنو له تورو وریخو
ستا د یاد باران وریږي
ستا ښایسته بلبلې سترګې
د زړه باغ کې مې چغیږې
اوس هم هغسې جانانه
د ادې راسره جنګ وي
زه چې تاته کړم ښیراووې
دا ولاړه ستا په ننګ وي
دا ډیر وخت کیږي لالیه
زما کیسو رانجه خوړلي
پښتانه دي پټه خوله یم
بس ګیلو رانجه خوړلي
ستا د نوم ښایسته توري

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ما راوړې لکه ستورې
په امیل کې مې ټومبلې
خلک بد بد راته ګورې
هاغه پاس په اینه کې
د بابا زوړ تېلفون ته
ورته ګورم تاته ترې غواړم
څه به ښاده شم ژوندون ته
زړه درواخله دا دمه کړه
هله ګرانه یو څه وکړه
نور مې وس د بیلتون نشته
ژوند زما پر بانه وکړه
مساپره د زړه سره
پیغله غیزه مې صحرا ده
خوشالۍ پلو ور ټول کړ
ژوند مې بیا په واویلا ده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ